د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

2024_06_24_Afghanistan_MO_DARI.doc

یکشنبه 24 ذی‌الحجه، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۴/۰6/30م | گڼه: ح.ت.افغ 31/۱۴۴۵

مطبوعاتي اعلامیه

## د نبوت پر منهج خلافت او د امت د وحدت لپاره غږ پر وړاندې د کندهار د ابتدائیه محکمې عجیب او غیرشرعي دریځ

د کندهار ولایت ابتدائیه محکمې د حزب التحریر پر ۱۵ تنو دعوتگرانو داسې حکم صادر کړی چې؛ تر څو چې دغه دعوتگران د نبوت پر منهج خلافت ته د دعوت له عمل څخه پښېماني او ندامت ونه ښيي او توبه ونه کړي، نو تر نامعلومې مودې پورې به په زندان کې پاتې شي. دا په دې معنی ده چې د حاکم نظام تر سیوري لاندې چې څوک د اسلام بشپړ او هر اړخیز تطبیق ته دعوت کوي او هغه ته پابند پاتې کېږي، نو په ابدي حبس به محکومېږي. آن د مرکزي اسیا د تر ټولو مستبدو رژیمونو، ظالمو عرب رژیمونو او کمونیستي او سیکولر دولتونو له ډلې هېڅ یوه یې په تېرو ۷۰ کلونو کې د دعوتگرانو پر وړاندې دغسې ظالمانه حکم نه دی صادر کړی. هغه کسان چې دغه ډول حکم یې کړی، په ډاډ سره ویلی شو چې دوی ټول ریکارډونه مات کړي دي. ایا واقعاً فکر کوئ چې دغه ډول ظلم به هغه دعوتگران، چې د الله سبحانه و تعالی پر عدالت ایمان لري، ووېروي؟ هغه عدالت چې که په دې دنیا کې متحقق نه شي، په قطعي توگه په اخرت پر خپل مقام درېږي.

موږ د دغې قضایي پرېکړې د غندلو ترڅنگ له هغو کسانو څخه، چې د مسلمانو دعوتگرانو پر وړاندې یې دا ډول ظالمانه پرېکړه کړې، پوښتو چې د دغه حکم اساس یې څه دی؟ د کوم شرعي، فقهي او مذهبي اصل له مخې او د کوم فرمان او داخلي عرف او قانون او آن نړیوال عرف او قانون پر اساس مو دغه پرېکړه کړې؟ ایا غواړئ په دغه ډول حکمونو مو موږ ته په مکي دور کې د اصحابو حال را په یاد کړئ چې د اسلامي دعوت په سبب یې یوازې دوه غوارویِ لرل؛ یا له اسلامي دعوت څخه تېرېدل او یا په سوځوونکې دښته کې تر مرگه پورې د ربړو او شکنجو زغمل!؟

د قضاوت مسند په اسلام کې خورا ارزښتناک مقام لري او هره پرېکړه یې باید د اسلامي افکارو، احکامو او ارزښتونو په رڼا کې وشي. په دغه قضایي پرېکړه کې د نفس له هوا پرته بل څه نه لیدل کېږي. مسلمانان په حکم او قضاوت کې د انبیاوو وارثین دي. نو یو قاضي څنگه کولی شي چې د دعوتگرانو پر وړاندې دغسې ظالمانه پرېکړه وکړي. موږ هغو قاضیانو ته، چې قصداً یا د جهل له مخې د اسلامي دعوت مخه نیسي، په دنیا کې له ذلت او اخرت کې له عذاب څخه انذار ورکوو او دوی باید له خپلو دغو عملونو توبه وکړي. لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې فرمایي:

**«الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ؛ فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ، وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ»** (ابو داود)

***ژباړه:*** *«قاضیان درې (ډوله) دي؛ یو (ډول) یې جنت ته ځي او دوه (ډوله) یې دوزخ ته. کوم چې جنت ته ځي، هغه سړی دی چې حق پېژني او پر حق حکم کوي. او هغه سړی چې حق پېژني او په حکم کې ظلم کوي هغه په اور کې دی او هغه سړی چې د جهل له مخې د خلکو قضاوت کوي هغه هم په اور کې دی.»*

د حیرانتیا خبره دا ده چې محکمې د دغو دعوتگرانو ازادي له دعوت څخه په توبه کولو پورې مشروطه کړې ده، کنه نو تر نامعلومې مودې پورې به په زندان کې پاتې شي. په حقیقت کې له شرعي نظره توبه له گناه او حرام څخه راگرځېدل دي. ایا د نبوت پر منهج خلافت ته دعوت، د امت وحدت ته دعوت او امر بالمعروف او نهی عن المنکر حرام کارونه دي چې دعوتگران ترې راوگرځي او توبه ترې وکړي؟ تاسو ته زموږ ځواب هغه دی چې په «طه» سورت کې راغلی:

**فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا** [طه:۷۲]

**ژباړه:** *«نو هر حکم چې کوې ويې کړه، ته يوازې په دې دنيوي ژوند کې حکم کولی شې!»*

د نظام ځينې چارواکي په داسې حال کې د حزب التحرير دعوت خطر ګڼي چې ملګري ملتونه، د محاربو هيوادونو سفارتونه او سياسي بنسټونه او سلګونه ظاهراً بشردوستانه انجوګانې په افغانستان کې شته دي چې په څرګند ډول د اسلامي ارزښتونو او حاکم نظام پر وړاندې فعاليت کوي او ټوله هڅه يې دا ده چې حاکم نظام د کفري نړيوال نظم لارې ته برابر کړي؛ خو له بده مرغه د دوی د فعاليت په اړه هيڅوک هم اندېښنه نه لري. څکه چې د ډالرو مېليوني کڅوړو او مالي امتيازاتو د هغوی په هکله پر سياسي بصيرت او شرعي موقف پرده غوړولې ده. لکه د ملګرو ملتونو ځانګړی استازي چې څو ورځې وړاندې وويل: «طالبان له غرونو راغلي او ... وخت نيسي چې زموږ اصول ومني.» ايا چا د دغو سپکوونکو خبرو پر وړاندې کوم شرعي دريځ غوره کړ؟ نه! په داسې حال کې چې د نظام د بقا لپاره اصلي خطر ذکر شوي موارد دي؛ خو د نظام ځينې چارواکي چې په زړونو کې يې «زيغ» دی، له دعوتګرانو سره يې دښمنۍ ته ملا تړلې، نيسي يې، تعذيبوي يې او په محکمو کې يې پر وړاندې ظالمانه پرېکړې کوي. که له دغو چارواکو سره د حزب التحرير د فعاليت او خير غوښتنې په اړه درک او د اسلام د تطبيق او اخرت په اړه اندېښنه وای؛ نو دا ډول ظالمانه او بې‌نتيجې کړنې يې نه ترسره کولې.

د حزب التحرير دعوت يو نړيوال دعوت دی چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فريضې په ترسره کولو سره حکام او د واک څښتنان د خلافت د تاسيس او امت د وحدت برخليک ټاکونکې قضيې ته متوجه کوي او هغوی ته د حکومتولۍ اساسي لومړيتوبونه ور په ګوته کوي. څوک چې د دعوتګرانو خير غوښتنې ته په ظلم سره ځواب ورکوي، هغوی دې پوه وي چې د تاريخ په اوږدو کې د الله سبحانه و تعالی سنت دا دي چې د ظالم قوم ځای بل قوم ته خالي کوي.

**وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم** [محمد:۴۷]

**ژباړه:** *«او هر کله چې (د الله له ميثاق څخه) مخ واوړئ، الله مو پر ځای بل قوم (نور خلک) راولي؛ هغوی به بيا ستاسو پشان (عهد ماتوونکي او ظالم) نه وي.»*

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**